## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**28 سنبله_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

د مهاجرینو وزارت مسلکي مرستیال فاریاب کې د یوه روغتیایي مرکز د جوړولو بهیر وکاته-------------------------1
برای ۱۰۰ خانواده در ولایت لغمان، کمک نقدی توزیع شد -------------------------------------------------------1
يد پاکستان له بندخونو لسګونه افغان بندیان ازاد شول ---------------------------------------------------------------2
د هالنډ نوی حکومت د پناه غوښتني تر ټولو سخت تدابیر اعلان کړل------------------------------------------------3
انګلیس کانال کې له نامنظمي کډوالی سره مبارزه: د برېتانیا لومړي وزیر د ځانګړې اداري د جوړولو خبر ورکړ ------4
بریتانیا: ایجاد یک مرکز ویژه برای مبارزه با قاچاقبران انسان و مهاجرت غیرقانونی-------------------------------6

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو وزارت مسلکي مرستیال فاریاب کې د یوه روغتیایي مرکز د جوړولو بهیر وکاته

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد فاریاب ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه ولایت له سیمه ییزو چارواکو سره په قیصار ولسوالۍ کې د یوه روغتیایي مرکز د جوړېدو بهیر وکاته.

دا مرکز د بې ځایه شویو او راستنېدونکو لپاره د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه جوړ شوی، چې په بېلابېلو برخو کې ۲۹ خونې لري او د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ په مالي مرسته د ٤٦٠ زره امریکايي ډالرو په لګښت په شپږو میاشتو کې جوړېږي .

د وزارت مسلکي مرستیال وویل: د دغه روغتیایي مرکز د کار په بشپړېدو به د قیصار ولسوالۍ د خلکو ستونزې هوارې شي. نوموړي د دغه مرکز پر معیاري کار ټینګار وکړ او مسولینو ته یې لازمې لارښوونې وکړې.

## برای ۱۰۰ خانواده در ولایت لغمان، کمک نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت

برای ۱۰۰ خانواده، در ولایت لغمان کمک نقدی بتاریخ ۲۶ سنبله توزیع شد.

**خانواده ها شامل برگشت کننده گان و نیازمندان بوده که قبلاً مورد شناسایی قرار گرفته بودند.**

**کمک یاد شده در دو بخش مبلغ ۱۵ هزار افغانی و ۷ هزار افغانی برای خانواده های مذکور از جانب کمیته بین المللی نجات بود که با نظارت ریاست امور مهاجرین توزیع شد.**

## یډ پاکستان له بندخونو لسګونه افغان بندیان ازاد شول

د وزارت ویب سایت



**د پاکستان له بندخونو ۴۵ افغان بندیان ازاد او د وري په ۲۶ مه نېټه هېواد ته راستانه شول.**

**د ننګرهار ولایت د تورخم سرحدي امریت د معلوماتو له مخې، یاد کسان د قانوني اسنادو نشتوالي له امله له ۲ میاشتو څخه تر ۲ کالونو پورې د پاکستان په بند خونو کې وو، چې له ازادېدو وروسته د انټرپول پولیسو له لوري په تورخم کې د فرضي کرښې له لارې هېواد ته راستانه او د مرستو تر لاسه کولو لپاره د مهاجرت نړیوال سازمان ته ورو پېژندل شول.**

**د یادولو ده، چې په دې کسانو کې ۲۶ تنه د ۱۸ کلونو څخه کم عمره د HARO موسسې ته ورپېژندل شول.**

**کدوال په هالند کې. انځور: پیکچر الاینز**

## د هالند نوی حکومت د پناه غوښتني تر تولو سخت تدابير اعلان کړل

مهاجرنيوز



د هالنډ نوی حکومت د پناه غوښتني د محدودولو په اړه په یو بې سارې اقدام کې د اروپایي ټولني د کډوالی له ګډې پالیسی څخه د وتلو غوښتنه کړې. حکومت ځینې عاجل اقدامات په پام کې لري چې له مخې به یې پر خپلو پولو کنټرول ډیر، د کورنیو الحاق محدود او د کډوالو پر ایستلو تمرکز ډیر کړي.

د هالنډ د کډوالۍ او پناه غوښتني د چارو وزیره مارجولین فابر د جمعې په ورځ په یوه ویډیویي پیغام کې ویلي »:زه د پناه غوښتنې تر تولو سخت سیاست په نظر کې لرم

د هالنډ ایتلافي حکومت چې په تیر نومبر میاشت د ټاکنو په پایله کې رامنځ ته شو، او ښي اړخي افراطي ډلو په پارلمان کې ډیرې رایې واخیستې، ژمنه کړې وه چې په دغه هیواد کې به د پناه غوښتني او ناقانونه کډوالو د ننوتلو د مخنیوي لپاره لازم ګامونه پورته کړي.

د هالنډ حکومت ویلي د اروپایي ټولني د کډوالۍ له ګډې پالیسۍ څخه به کلونه وخت و نیسي خو حکومت دې پروسې ته انتظار نه کوي. د جمعې په ورځ حکومت داسې تدابیر اعلان کړل چې په چټکۍ سره به یې عملي کولو ته لارې چارې و لټوي.

د پولیټیکو خبري ویبپاڼې لیکلي، د کډوالۍ په اړه د حکومت په دغو نوو اقداماتو کې د کورنۍ د بیا یوځای کیدو کې بدلونونه شامل دي. حکومت به بالغو کډوالو ته په مشروط ډول اجازه ورکړي تر څو خپلو کورنیو سره یو ځای شي. یوازې هغه کډوال چې دایمي کور، کافي عاید، او لږ تر لږه دوو کلونو موده یې په هالنډ کې تیره کړې وي کولای شي خپلې کورنۍ هالنډ ته راوغواړي.

کډوال به له پنځو کلونو وروسته په اتومات ډول دایمي استوګنه ترلاسه نه کړي او کله چې د دوی په اصلي هیواد کې امنیت ټینګ شي نو بیرته به واستول شي.

همدارنګه د حکومت په نوي اقداماتو کې دا هم شامل دي چې د مجرمو کډوالو د ایستلو پروسه به چټکه شي.

د دې ترڅنګ د پناه غوښتنې لپاره به اداري مقررات هم سخت شي او هغه کډوال چې د ملاقات وخت له لاسه ورکوي نو سمدلاسه رد کیږي.

سربیره پر دې د کډوالو لپاره به استوګنځایونو ته لاسرسی هم محدود شي او هغه کسان چې په هالنډ کې د استوګنې اجازه نه لري، که چیرې په خپله خوښه و نه وځي نو له اجباري اخراج سره به مخامخ شي.

د هالنډ حکومت وروسته له هغه د کډوالو پر وړاندې داسې سخت تدابیر اعلانوي چې دغه هیواد کې د کډوالو د څپو ډیریدل د سیاسي ګوندونو ترمنځ نانډرۍ رامنځ ته کړي. حکومت د ډیرو کډوالو له امله د سرپناه له بحران سره مخامخ شوی.

تیر کال حکومت هغه کښتۍ هم د کډوالو د سرپناه لپاره ځانګړې کړه چې د نورو موخو لپاره کارول کیده. حکومت هغه مهال اړ شو چې د هرکلي نوي مرکزونه هم پرانیزي.

## انګلیس کانال کې له نامنظمې کډوالۍ سره مبارزه: د بریتانیا لومړي وزیر د ځانګړې ادارې د جوړولو خبر ورکړ

مهاجرنیوز



په انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې وروسته د برېتانیا د لومړي وزیر دفتر د یکشنبې په ورځ د پولو د امنیت د ټینګولو لپاره د یوې ځانګړې ادارې د جوړولو خبر وکړ. د دغه مرکز د جوړېدو موخه له پلان شویو جرایمو او انساني قاچاقبرانو سره مبارزه ښودل شوې ده .

د برېتانیا حکومت د سپټمبر په ۱۵مه د پولو د امنیت د تامینولو لپاره د یوې ځانګړې ادارې د جوړولو اعلان وکړ .دا اعلان وروسته له هغه کېږي چې د یکشنبې په ورځ انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې له امله ۸ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ .لومړي وزیر کیېر ستارمر د خپل ټاکنیز کمپاین پر مهال له نامنظمې کډوالۍ سره د مبارزې په موخه د یوې ځانګړې ادارې د جوړولو ژمنه کړې وه .

ډاونینګ سټریټ یا د لومړي وزیر دفتر ویلي دي چې دا مرکز به «د پولیسو او استخباراتو ترمنځ د همغږۍ دنده لري او موخه یې دا ده چې له نورو اروپایي هېوادونو سره یو ځای د پلان شویو جرمونو په اړه پلټنې وکړي .«

د برېتانیا د پولیسو لوړپوړی چارواکی مارتین هېویټ د دې ادارې د مسول په توګه نومول شوی دی. د ډاونینګ سټریټ په حواله، نوموړی «له جرایمو سره د مبارزې او د ملي امنیت د ساتنې په برخه کې له ۳۰ کلونو څخه زیاته تجره لري او د امنیتي ګواښونو او په ځانګړې توګه ترهګرۍ، پلان شویو جرمونو او نامنظمې کډوالۍ سره د مبارزې په برخه کې یې مهم رول لوبولی دی .«

له دې سره هممهاله، مارتین هېویټ پر خپله ایکس پاڼه لیکلي چلنجونه زیات دي خو هغه ډاډه دی چې حل به یې کړي. دغه چارواکي لیکلي دي: «زما پیغام قاچاقبرانو ته دا دی: موږ له خپلو ټولو امکاناتو سره ستاسې بزنس په نښه کوو«.

د برېتانیا د کورنیو چارو وزیرې یوېټ کوپر په خبره، دې دندې ته د مارتین هېویت نومول ښیي چې د کارګر حکومت د کډوالۍ ستونزې ته جدي پاملرنه کوي. هغې د بي بي سي ون برېکفاست برنامې سره خبرو کې ویلي دي: «موږ باید مشخص تدابیر ونیسو.» په وینا یې، د نامنظمې کډوالۍ مسلې ته ځواب ورکول یوازې د »سخت کار» او نه د «نمایشي» تدابیرو په مرسته شووني دي .

د ستارمر او ملوني ترمنځ لیدنه

د نوي حکومت بل وړاندیز دا دی چې د ترهګرۍ قوانینو له مخې پر پولو د برېتانیا پر پولو امنیتي کنټرول زیات شي او د پلان شویو جرمونو او قاچاقي شبکو د له منځه وړلو په موخه څېړونکو ته د مالي تحقیقاتو په برخه کې لا زیات صلاحیتونه ورکړل شي .

دا په داسې حال کې ده چې لومړي وزیر کیېر ستارمر د سپټمبر په ۱۶مه د ایټالیا له لومړۍ وزیرې جیورجیا ملوني سره د نامنظمې کډوالۍ په اړه د خبرو اترو په موخه روم ته سفر وکړ. نوموړي د ملوني پالیسیو ته «علاقه» ښودلې چې له امله یې ایټالیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر کم شوی دی: د ۲۰۱۴ د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د سپټمبر تر ۱۶مې پورې ۴۵ زره کسان خو په ۲۰۲۳ کې بیا ۱۲۸ زره کډوال دغه هېواد ته رسېدلي وو.

د جیورجیا ملوني واک ته له رسېدو سره سم د کډوالو پر وړاندې خپل دریځ سخت کړی دی. نوموړې د شمالي افریقا له یو شمېر هېوادونو لکه تونس او لیبیا سره د کډوالو د کښتیو د مخنیوي لپاره د همکارۍ تړونونه لاسلیک کړي او همدارنګه هغه سازمانونه یې مجرم بللي دي چې مدیترانه کې د کډوالو د ژغورنې عملیاتونه ترسره کوي .

دغې چارواکې په روان مني کې ګجر ښار کې د کډوالو د یوې توقیف خونې د پرانیستو په موخه البانیا ته سفر وکړ. ټاکل شوې ده هغه کډوال په دغه توقیف ځای کې وساتل شي چې د ایټالوي کښتیو له خوا له مدیترانې ژغورل کېږي .

## بریتانیا: ایجاد یک مرکز ویژه برای مبارزه با قاچاقبران انسان و مهاجرت غیرقانونی

مهاجرنیوز



**حکومت بریتانیا اعلام کرده که یک مرکز فرماندهی ویژه را برای تامین امنیت مرزهایش و مبارزه با قاچاقبران انسان ایجاد کرده است. به گفته مقامات، قرار است هزینه مالی توافق لغو شده با رواندا برای انتقال مهاجران، در تهیه تجهیزات مدرن کنترول مرزی به مصرف برسد. یکشنبه گذشته، هشت مهاجر در تلاش رفتن به بریتانیا، در کانال مانش غرق شدند.**

**تنها ساعاتی بعد از انتشار خبر غرق شدن مهاجران، کی‌یر ستارمر، دفتر نخست وزیر بریتانیا اعلام کرد که این مرکز فرماندهی »برای هماهنگی تلاش‌های ادارات پولیس ... و اطلاعات» بریتانیا و«تحقیقات مشترک با همکاران اروپایی در جهت مبارزه با جرایم سازمان یافته در زمینه مهاجرت» ایجاد شده است.**

**به گفته مقامات بریتانیایی، مارتین هویت، یک کارمند بلند پایه پولیس که »بیشتر از ۳۰ سال در عرصه مبارزه با جرایم بزرگ، حفاظت از امنیت ملی» و مبارزه علیه تروریزم تجربه دارد، به ریاست فرماندهی ویژه منصوب شده است.**

**مارتین هویت، در پیامی در ایکس نوشت: «هیچگونه تصور واهی در مورد آزمون‌هایی که سر راه ما قرار دارد ندارم اما با قاطعیت برای انجام ان تلاش خواهم کرد «.او در ادامه نوشت: «پیام من به قاچاقبران این است: ما با تمام امکانات به تجارت شما حمله خواهیم کرد«.**

**حکومت بریتانیا همزمان اعلام کرده که بر اساس قوانین ضد تروریستی، کنترول در مرزها و صلاحیت‌ها در زمینه تحقیقات مالی علیه گروه‌ها و جرایم سازمان یافته را افزایش خواهد داد .**

هزینه برنامه اخراج مهاجران به روآندا برای مبارزه با قاچاقبران

این در حالیست که وزارت داخله بریتانیا روز دوشنبه گفت که قرار است مبلغ ۸۹ میلیون یورو هزینه اخراج مهاجران به روآندا را در جهت مبارزه با شبکه‌های قاچاقبران به مصرف برساند .کی‌یر ستارمر، بعد از پیروزی در انتخابات در اوایل اگست، توافق با روآندا را لغو کرد.

اویویت کوپر، وزیر داخله بریتانیا گفت که مبلغ یاد شده صرف خریداری کمره‌های کنترول و تجهیزات پیشرفته برای جمع آوری اطلاعات علیه قاچاقبران و استخدام نیرو در گاردهای ساحلی و یک صد مامور ویژه در اداره مبارزه با جرایم خواهد شد .

به گفته مقامات، بریتانیا برای همکاری و هماهنگی با همسایگانش، شمار ماموران خود در اداره پولیس اروپا (یوروپول) را افزایش داده است.

روز دوشنبه، کی‌یر ستارمر، در دیدارش با جیورجیا ملونی، همتای ایتالیایی اش در روم از تجربه موفق ایتالیا در کاهش موج مهاجرت به این کشور ستایش کرد و گفت که بریتانیا با علاقمندی این تجربه را زیر نظر دارد.

در همین زمینه
مهاجرت غیرقانونی: ستارمر برای گفتگو با جیورجا ملونی به ایتالیا سفر کرد

ایتالیا در کنار توافق با البانیا برای نگهداری مهاجران نجات داده شده از مدیترانه، با تونس نیز توافق‌هایی را به امضا رسانده تا در بدل کمک‌های مالی، این کشور شمال افریقا را در مبارزه علیه مهاجرت‌های غیرقانونی ترغیب کند.

مقامات ایتالیایی می‌گویند که تلاش‌های روم باعث شده رقم مهاجران از آغاز سال تا کنون به ۴۴ هزار و ۶۷۵ تن کاهش یابد. این رقم در همین مدت در سال گذشته بیش از ۱۲۵ هزار نفر بود.

اما سازمان بین المللی مهاجرت و سازمانهای خیریه معتقد هستند که دلایل متعددی برای این کاهش وجود دارد از جمله این که بخشی از مهاجران علاقمند ورود به اتحادیه اروپا از طریق ایتالیا، مسیر خود را تغییر داده‌اند.